# د احمد شاه ابدالي لوړو زده کړو مؤسسه
# علمي چارو معاونیت
# علمي څېړنو کمېټه

# علمي څېړنو پالیسي

# کال ۱۴۰۲

**سریزه**

دا چې د احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو مؤسسې د علمي فعالیتونو په ډګر کې نوی قدم ایښی نو د علمي څېړنو له میتودولوژی سره یو شمېر استادان ډېره کمه بلد تیا لري. ددې لپاره چې د علمي څېړنو له میتودولوژی سره د مؤسسې د نویو استادانو بلدتیا زیاته، د علمي څېړنو د سرته رسولو لپاره مؤسسې د مادي، فزیکي او لابراتواري امکاناتو په برخه کې خپل مسولیت په ښه شان ادا کړی وي، ترڅو په مؤسسه کې د علمي څېړنو د کمیت او کیفیت سطحه لوړه او د علمي څېړنو د کارونو انسجام او تنظیم په ښه شان ترسره شوی وي د احمد شاه ابدالي د مؤسسې د علمي څېړنو کمېټې منل شوو معیارونو ته په کتو د علمي څېړنو دغه پالیسي ترتیب کړه.

ددې پالیسی اساسي لید لوری په راتلونکي کې د یوې داسې علمي مؤسسې درلودل دي چې په ملي او منطقوي سطح د معیاري علمي څېړنو د ترسره کولو وړتیا ولري. تر څو د علمي څېړنو د پوهې زیاتولو او ددې لارې د ملي اړتیاوو د رفع کولو جوګه وي. ددې پالیسۍ له مخې به د علمي څېړنو له میتودولوژۍ سره د بلدتیا او څېړنیزو مهارتونو ته په کتو به د استادانو علمي او اکاډمیک مسؤلیتونه او مکلفیتونه په ګوته کیږي ترڅو مؤسسه د ملي ستراتیژیکو پلانونو د موخو د پلي کولو په موخه د علمي ، مسلکي پرمختګ، له یوبل سره د اړیکو په تقویه او د علمي بنسټونو ترمنځ د همکاری په برخه کې خپل مسؤلیت په ښه شان ترسره کړی شي.

**د مؤسسې اوسنی وضعیت**

د هرې ټولنې د پرمختګ لپاره امنیت، سوله او ثبات اساسي شرطونه دي. دا چې په اوسنیو شرایطو کې په افغانستان کې سرتاسري سوله او امنیت راغلی ، د احمد شاه ابدالي د لوړو زده کړو مؤسسه د څېړنو په برخه کې کافي اندازه تجربه لرونکي لوړ رتبه استادان او تخنیکي، لابراتوار او کلینکي امکانات لري، همدا ډول په ستراتیژیک پلان کې د څېړنو لپاره یوه اندازه مالي امکانات هم په نظر کې نیول شوي زمونږ لپاره یو ښه زیری دی. که څه هم کفایت نه کوي خو دا کار ددې سبب شوی چې په یاده مؤسسه کې یو شمېر څېړنیز فعالیتونه صورت ونیسي. که څه هم د احمد شاه ابدالي د لوړو زده کړو مؤسسه د زیات شمېر مؤسسو په نسبت غوره امکانات لري، خو د نوو استادانو د څېړنیزو مهارتو لوړول، د لابراتواري ، کلینکي او بودیجووي امکاناتو لوړول، په څېړنیزو فعالیتونو کې د استادانو او محصلانو لا زیاته برخه اخیستنه ،له نورو دولتیي او غیر دولتي مسساتو سره د ګډو څېړنیزو فعالیتونو زمینه برابرول هغه څه دي چې باید کار پرې وشي.

## موخې

### عمومي موخې

په مؤسسه کې د علمي څېړنو تقویه او په هیواد کې د علم چټکتیا او پرمختیا

### ځانګړې موخې

۱- سیمه  یزو او نړیوالو معیارونو ته په کتو هیواد ته د اړتیا وړ او هدفمندو څېړنو په برخه کې د کادري غړو د مهارتونو لوړول او پرمختګ.

۲- په مؤسسه کې کې د علمي کادر  غړو او محصلانو ته د علمي او څېړنیزو کارونو د سرته رسولو لپاره د اړینو اسانتیاوو برابرول.

۳- د ټولنې په علمي، مسلکي، اجتماعي، پرمختګ او هوساینه کې د علمي څېړنو له پایلو او لاسته راوړنو څخه ګټه اخیستل.

۴- د علمي څېړنو په برخه کې له نورو څېړنیزو مرکزونو او اړونده بنسټونو سره د اړیکو او مرستې پراختیا او ټینګښت.

۵- پر خپلو پښو د مؤسسې د درولو لپاره د علمي څېړنو د اجرا کولو له لارې د مالي سرچینو تامینول.

## ماموریت

۱- په مؤسسه کې د علمي څېړنو تقویه او پر مختیا.

د علمي څېړنو د پرمخ بیولو لپاره اساسي ټکي د علمي کادرونو د څېړنیزې پوهې او مهارتونو تقویه کول ګڼل کیږي. ددې هدف لپاره د مؤسسې د څېړنو کمېټه په بیلا بیلو برخو کې لکه: د څېړنې کړنلارې، د مقالو د برابرولو کړنلارې، احصایه، نمونه اخیستل، د ارقامو راټولول،د ارقامو تحلیل، د تجربو ډیزاین، د څېړنې د ګزارش برابرول، د هغې ارایه کول ، د علمي معلوماتي منابعو موندل او له هغې څخه استفاده، د څېړنیزو پروژو د پروپوزلونو جوړول او داسې نورې مشخصې برنامې رامنځته کوي.

۲- د استادانو لپاره د علمي څېړنو په برخه کې د زده کړو د اسانتیاوو برابرول.

- په لمړي قدم کې د لوړو زده کړو وزارت لخوا په څېړنیزو ښوونیزو پروګرامونو کې استادانو ته د شمولیت زمینه برابروي.
- په دوهم قدم کې د مؤسسې په داخل کې خپلو علمي کادرونو ته د څېړنیزو زده کړو کورسونه برابرول.

۳- د مالي سرچینو تدارک

- د مؤسسې استادان د تدریس ترڅنګ د علمي څېړنو د سرته رسولو مکلفیت هم لري.
- علمي څېړنی یواځې په علمي ترفیعاتو پورې اړه نلري. بلکې استادان کولی شي د دولتي او خصوصي مؤسسو په پروژو کې شامل شي.
- له ترلاسه شوي مالي سرچینو څخه د استادانو د حق الزحمې په برابرولو او د اکاډمیک وضعیت د ښه والي لپاره ګټه پورته کیږي.

۴- د علمي څېړنو د پایلو څخه د ګټې اخیستنې لپاره د اسانتیاوو برابرول.

- د څېړنو کمېټه به د وزارتونو او اړونده مؤسسو سره علمي اړیکي رامنځته کوي
- د علمي څېړنو پایلې د ویبسایټ، علمي مجلو ، د علمي او مسلکي کنفرانسونو له لارې له وزارتونو او اړونده مؤسسو سره شریکوي.

- مؤسسه به لازمې اسانتیاوې لکه: انټرنیټ، کتابتون، نړیوالو علمي ډیټابیسونو ته د استادانو لاس رسی، لابرتوار او نور د استادانو او د څېړنې د کمېټې په واک کې ورکوي.

۵- د مؤسسې د علمي کادر د غړو ترمنځ د علمي او مسلکي اړیکو ټینګښت.

- د څېړنو د کمېټې غړي به د علمي کادرونو د څېړنیزو، تجربو د شریکولو او د علمي او مسلکي اړیکو د ټینګښت په خاطر ګډې غونډې، علمي کنفرانسونه او سیمینارونه دایروي.

٦- د پوهې د رشد او انکشاف، د ټولنې د هوساینې په موخه به په بیلابیلو ساحو کې د علمي څېړنو زمینه برابرل

د ټولنیزو ، اقتصادي او سیاسي ستونزو د حل، د علومو د رشد او انکشاف لپاره د زمینې برابرول او د ټولنې د هوساینې په پار په مختلفو ساحو کې علمي څېړنې په لاره اچول کیږي.

---

د احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو موسسي د علمي څېړنو پالیسي د علمي څېړنو کمېټې په د۱۹/ ۰۴/ ۱۴۰۲ هـ ش نېټه غونډه کې چې د پروتوکول نمبر یې ( ۵) دی تائید شوه

د کمېټې د رئیس لاسلیک

(                              )

---

د احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو موسسي د علمي څېړنو پالیسي د علمي شورى ۰۵ / ۰۵/ ۱۴۰۲ هـ ش نېټې په غونډه کې چې د پروتوکول نمبر یې( ۵) دی تصویب شوه